BBC MEDIA ACTION
TRANSFORMING LIVES THROUGH MEDIA AROUND THE WORLD

Global Affairs Canada | World Health Organization

# کوېډ-۱۹ او د خلکو غږ

## څېړنیزه میاشتنۍ - نومبر ۲۰۲۰

### اړین ټکي

- ددې څېړنې ټول ګډونوال واکسین کولو ته لیواله دي خو په دې شرط چې د عامې روغتیا وزارت او/ یا د روغتیا نړیوالې ادارې لخوا تایید شوی وي. که څه هم، ځینو یې فکر کاوه چې یو شمېر خلک به یې کیدای شي د خپلو قوي مذهبي باورنو له کبله رد کړي. خلکو ته دا لا نه ده څرګنده چې هر څوک باید واکسین وکړي که یوازې هغه خلک چې پر [کرونا ویروس] اخته دي یا به پرې اخته شي.
- د برخه والو په باور دا مهمه ده چې واکسین باید په وړیا ډول تنظیم شي.
- ددې څېړنې د ګډونوالو په باور روغتونونه په هېواد کې کرونا وبا د خپرېدا له مرکزونو څخه یو دي. د (وېرې) دا احساس خلک د نښو نښانو درلودو په صورت کې د کوېډ-۱۹ ازموینې یا درملنې ته له تګه راګرځوي. همدارنګه ډیری برخه وال په دې باور ول چې د تجهیزاتو او طبی اسانتیاو د کمښت له کبله د کوېډ-۱۹ اړوندو ځانګړو روغتونونو کې درملنه نه شته. دې ټکې پر روغتیایي کارکونکو او په ټوله کې پر روغتیایي سیستم د خلکو باور زیانمن کړی کوم چې له دې وبا وړاندې هم ټیټ و.
- ښځې او انجونې لاهم ددې وبا له امله په پراخه توګه زیانمنیږي. ددې څېړنې ځینو ګډونوالو وویل چې انجونې د ولور په بدل کې په زور واده کولو ته مجبوریږي یا د پیسو په بدل کې نورو ته ورکول کیږي.

"زه یوه ښونکې یم. یوې زده کوونکې مې راته وویل چې کورنۍ یې غوښتل درې کلنه خور یې د پیسو په بدل کې ورکړي." (په بلخ کې یوه ښوونکې)

### مهمې موندنې

- ډیری خلک د اخته کېدو له وېرې په روغتونونو کې درملنې ته زړه نه ښه کوي

ددې څېړنې نږدې ټولو نارینو او ښځینه برخه والو ویلي دوی یا یې د کورنۍ نورو غړو د تېرو شپږو میاشتو په جریان کې د خوند او بوی حس د لاسه ورکولو په ګډون د کوېډ-۱۹ ځینې نښې نښانې تیرې کړې دي. که څه هم ډیر لږ شمېر خلکو د کوېډ-۱۹ د ازمایښت د اسانتیاو د کمښت له امله ازموینه ترسره کړې. دوی وایي چې د ازموینې اسانتیاوې یوازې د کوېډ-۱۹ یو شمېر ځانګړو روغتیایي مرکزونو کې شتون لري او ډیری خلک پدې باور دي چې نوموړي روغتونونه ددې ویروس د خپرېدا اصلي ځایونه دي. ډیری ځواب ویونکي تاییدوي چې دوی یوازې هغه مهال روغتون ته ځي چې اکسیجن ته اړتیا ولري ترڅو په دې توګه ژوندي پاتې شي. د څېړنې ډیری برخه وال په دولتي روغتونونو کې د تجهیزاتو له کمښته او د ډاکټرانو او نرسانو له ناوړه چلند څخه سر ټکوي. روغتیایي کارکوونکې هم دا خبره مني، دوی وایي چې لاهم د کووېډ - ۱۹ ناروغانو د درملنې لپاره په کافي اندازه اسانتیاوې او تجهیزات په واک کې نلري. دغو روغتیایي کارکوونکو دا هم وویل چې لاهم نږدې ټول روغتونونه او روغتیایي مرکزونه د شخصي خوندیتابه محدود تجهیزات لري، او له همدې کبله دوی نشي کولی هر وخت ماسکونه واغوندي. د څېړنې برخه والو په دې هم خبرې وکړې چې روغتیایي کارکونکي د مخنیوي لاروښوونې په بشپړه توګه په پام کې نه نیسي، هغه څه چې ددوی په خبره دوی د روغتونونو یا د روغتیایي مرکزونو د لېدو پرمهال لیدلي دي.



روغتیايي کارکونکی سره مرکه، بی‌بی‌سی میدیا اکشن

> "خلک اوس د کوېډ – ۱۹ په هکله اندېښنه نه لري ځکه هیڅ څوک هم په غونډو او عامه ځایونو کې د مخنیوي لارښـوونو تـه پام نـه کوي - ان ډاکټران او حکومتي چارواکي په دې برخه کې [اندېښـنـه نـه کوي]." (له دایکندي څخه یو خبریال)

سریره پر دې، د کابل څخه دباندې د کوېډ-۱۹ درملنه لاهم محدوده ده، او په لرو پرتو سیمو کې درملنه نه شته. په پایله کې، د څېړنې ډېری برخه وال داسې انګېري چې روغتیایي سیستم ددې وبا پرمهال خلکو ته د درملنې په وړاندې کولو کې پاتې راغلی. په فاریاب، کندز، دایکندي او بلخ ولایتونو کې د مرکه شویو روغتیايي کارکونکو ډېری یې د ورته خنډونو په اړه خبرې کوي او همدارنګه داسې انګېري چې د عامې روغتیا پر چارواکو د خلکو نه باور ورته په چارو کې د لا زیاتو ننګونو لامل شوي دي.

## • خلک د کوېډ-۱۹ راتلونکي واکسین ته سترګې په لار دي

ددې څېړنې ټول نارینه او ښځینه برخه وال وايي دوی به د کوېډ ۱۹ واکسین وکړي خو په دې شرط چې د روغتیا نړیواله اداره او د افغانستان د عامې روغتیا وزارت یې تایید کړي. د څېړنې ډېری ګډونوالو د عامې روغتیا وزارت له لوري د واکسین پر تاییدولو ټینګار کاوه ځکه دوی ددې کال په سر کې یوې ناسمې ادعا ته اشاره کوله هله چې یوه سیمه ایز کیمیاګر حکیم الکوزي د داسې څاڅکو د جوړولو ادعا کړې وه چې کولای شي خلک د کرونا ویروس په وړاندې خوندي کړي. د عامې روغتیا وزارت وېلې و هغه څه چې الکوزی یې خلکو ته ورکوي ځینې نشه یې مواد لکه مورفین او اپین لري چې د روږدي کېدو لامل کېدای شي.

> "هو، کاشکې ما واکسین ترلاسه کولای شوای. که واکسین جوړ شوی وای، ما به خپل کوچنیان په منده واکسین کړي وای." (له کندزه یوه مور)

دخلکو زړه نا زړه والی او د واکسین د نه کولو خطر هم د مهمو خنډونو په توګه پراته دي. په هلمند، ننګرهار او دایکندي ولایتونو کې ځینو برخه والو په خپلو ټولنو کې د ځینو داسې خلکو یادونه کړې چې په دې باور دي چې ژوند او مرګ دواړه د الله تعالی په لاس دي او دوی د خپل ژوند ساتلو لپاره واکسین ته اړتیا نه لري. دا ګډونوال داسې انګېري هغو خلکو چې مخکې ځینې واکسینونه لکه د پولیو یا د ماشومانو د ګوزڼ او په کوچنیانو کې د نورو ناروغیو لپاره واکسینونه رد کړي و، کېدای شي د کوېډ-۱۹ واکسین هم رد کړي. د دغې څېړنې ګډونوالو وېلي دو نه پوهېږي چې د واکسین له جوړېدو ورسته کوم کسان دغه واکسین ته اړتیا لري. د کندز او فاریاب ولایتونو د ځینو نارینو او ښځینه برخه والو په اند یوازې هغه خلک به واکسین ته اړتیا ولري چې پر کوېډ-۱۹ اخته شي یا دا چې د اخته کېدو له لوړ خطر سره مخ دي. دوی فکر نه کاوه چې واکسین د هر چا لپاره اړین دی. ډېری برخه وال تمه لري چې واکسین باید په وړیا توګه تنظیم شي ځکه دوی ویره لري ډېری خلک به یې د پېرودلو وس ونلري.

> " په ځینو ځایونو کې ځینې خلک ممکن واکسین ونه مني. افغانستان داسې یو هېواد دی چېرې چې داسې پېښې پېښېدلای شي. دا اړینه ده چې خلک د واکسین اړتیا په اړه وپوهول شي." (د بلخ یو اوسېدونکی)

سریره پردې، پر روغتیايي سیستم او روغتیايي کارکونکو د خلکو **بې باوري**، او د روغتیا پالانو پر ضد پراخې اوازې او ګنګوسې هم یو داسې فکتور برېښي چې د کوېډ-۱۹ واکسین کولو په برخه کې د خلکو زړه نا زړه والي زیاتوي. که څه هم، ددې څېړنې نږدې هر برخه وال داسې انګېري چې (د هغو نښو نښانو څخه چې دوی درلودې) د تېرو شپږو میاشتو په جریان کې پې کوېډ-۱۹ ناروغي تېره کړې، خو د دوی له منځه ډېرو لږو پې د کوېډ-۱۹ ازموینه کړې او یوازې هغه مهال روغتون ته تللي چې حالت پې ډېر خراب شوی یا پې اکسیجن ته اړتیا درلوده. په پراخه کچه ګنګوسې شته چې روغتونونه پر نوموړي ویروس د اخته کېدو اصلي ځایونه دي او ډاکټران د ستنو په مرسته پر کوېډ-۱۹ اخته ناروغان وژني ترڅو په دې توګه ددې ویروس خپراوی ودروي. دغه ډول ګنګوسې او پر روغتیايي کارکونکو د خلکو ټیټ باور ممکن د واکسین غوښتنې تقاضا لپاره یوه احتمالي ستونزه راپورته کړي په ځانګړې توګه که چېرې

دا واکسین د ستنې په مرسته د یوه وړ روغتیايي کارکوونکي له لوري (ممکن په یوه روغتیايي ځای) کې ترسره کیږي. د لومړۍ کرښې هغه روغتیايي کارکونکي چې په دې څېړنه کې ورسره خبرې شوي هم داسې انګیرې چې خلکو ددې وبا په جریان کې پر روغتیايي چارواکو خپل باور له لاسه ورکړی دی. له همدې امله، د څېړنې برخه اخېستونکي د عامه پوهاوي کمپاینونو په لاره اچولو سپارښتنه کوي ترڅو خلکو ته پوهاوی ورکړي او له واکسین سره یې اشنا کړي.

## • ځواني نجونې د کوېډ-۱۹ ناروغۍ د اقتصادي اغېز بیه پرې کوي

*" زمونږ کاونډۍ ببوزله وه. هغه او د هغې دوه لوڼکانې په کرونا ویروس اخته شوې. هغې سره د کورنۍ د خرڅ او خوراک او درملنې لپاره پیسې نه وې نو ځکه اړ شوه چې خپله ۱۳ کلنه لور یو زاړه سړي ته چې دوه ښځې یې لرلې د پیسو په بدل واده کړي ترڅو د کور مصرف او د درملنې لګښت پوره کړي. په کلي کې ټول له دې خبرې خبر دي."* ( د راډیو اوربدونکي، هلمند)

په کم عمر کې واده او د پیسو په بدل کې د ماشومانو ورکړه، تر ډېره د نجونو، د یوې مخ پر زیاتېدونکې ستونزې په توګه ددې څېړنې د ځواب ویونکو له خوا یاد شوي دي. دوی د خپل سترګو لیدلی حال له موږ سره شریک کړی چې ډېرو کورنیو د لومړنۍ قرنطین پر مهال د خپل عاید یوازنۍ سرچینې له لاسه ورکړې او تراوسه یې په بېرته ترلاسه کولو بریالي شوي ندي. دې کورنیو پیسې نه درلودې چې ځانونه ته پرې خواړه واخلي. له همدې امله یې خپلې ماشومانې د پیسو په بدل کې ورکړې. په ځانګړې ډول، ښځینه برخه والو وویل چې ځینې کم عمره نجونې د اقتصادي ستونزو له امله د ولور په بدل کې په زور واده ته مجبورې شوي دي. په بلخ کې هم د پیسو په بدل کې د کوچنیو نجونو د ورکړې څو راپورونه ورکړل شوي دي.



په دایکندي ولایت کې د ښځینه ګډونوالو سره ډلهایزه مرکه/ بي‌بي‌سي میډیا اکشن

## • دکوېډ-۱۹ وبا، ماشومان ښوونځیو پرېښودو ته اړ کړي دي

> *" ما خپله دنده له لاسه ورکړه او نشو مې کولی چې د خپلو دوو ماشومانو د ښوونځي فیس ورکړم. نو ځکه مې خپل ماشومان دولتي ښوونځي ته واستول، خو په دولتي ښوونځیو کې سمې زده کړې او د حفظ الصحې آسانتیاوې نشته."* (له فاریاب څخه یوه مور)

د کووېډ-۱۹ وبا د خپرېدو پرمهال اقتصادي محدودیتونو د ماشومانو پر زده کړو منفي اغیزه کړې ده. په داسې حال کې چې پوهنتونونو او ښوونځیو پرلیکه(انلاین) زده کړې پیل کړي دي خو په بېوزلو کورنیو کې زده کوونکي مالي توان نه لري چې انټرنټي وسایل واخلي او یا هم د انټرنټ لګښت ورکړي، نو ځکه دې ته اړ شول چې ښوونځی یا هم د پوهنتون یو سمستر پرېږدي. هغه مېندې او پلرونه چې ددې وبا پرمهال یې دندې له لاسه ورکړې، دې ته اړ شول چې خپل ماشومان دولتي ښوونځیو ته واستوي، ځکه چې دوی نور نشول کولای د خصوصي ښوونځیو( چې د دوی په باور د زده کړو کیفیت یې ښه دی) فیس ورکړي.

> *" څلور زدکړیالان پر یوې چوکۍ(بېنچ) کښېني، نو په داسې حال کې شوني نه ده چې دوي فیزیکي لرې والی په پام کې ونیسي. یوځل مې له یوه تولګیوال څخه د واټن په پام کې نیولو غوښتنه وکړه خو په ځواب کې ښوونکي راته وویل چې ځانته یوه جلا چوکۍ راوړم."* ( د پوهنتون زدکړیال، کندز)

سربېره پر دې، د زده کوونکو مېندې او پلرونه او د پوهنتونونو زدکړیالان وایي چې ښوونځي او پوهنتونونه روغتیايي لارښوونې لکه فیزیکي واټن او نورې احتیاطي لارښوونې په پام کې نه نیسي. د مرکې ګډونوال وايي چې ډېرې ادارې او بنسټونه د لاس مینځلو ځای، صابون یا مېکروب ضد مایع په شان امکانات نه لري. روزنیزې او تحصیلي ادارې د دې ظرفیت او توان نه لري چې زده کوونکي او زدکړیالان د اړین واټن په پام کې نیولو سره په ټولګیو کې ځای پر ځای کړي. په ټوله کې مېندې او پلرونه نه غواړي چې یوځل بیا دې ښوونځي وتړل شي. د څېړنې پرمهال ډېرو مېندو او پلرونو داسې فکر کاوه چې په ښوونځیو کې د دوی ماشومان د بهر په پرتله خوندي دي. همدارز دوی داسې فکر کاوه کله یې چې ماشومان له کور او ښوونځي بهر وي نو د کوېډ-۱۹ له خطر سره ډېر مخ دي. همغسې چې زموږ د سپټمبر په میاشتنۍ هم کې راغلي وو، په ځینو سیمو کې د ښوونځیو تړل دا اندېښنې راپارولې دي چې کېدای شي په دغه وخت کې ماشومان د ورانکارو او ترورېستي ډلو لخوا جذب شي.

## • خلک د کرونا ویروس د دوهمې څپې او واکسین په اړه لا ډېر مالومات غواړي

د مرکې ټولو برخوالو د کوېډ-۱۹ د دوهمې څپې د شدت او پراخوالي او د واکسین د تولید لړۍ د پرمختګ په اړه مالومات غوښتل. په تېرو څو میاشتو کې د نورو ګډونوالو په څېر، دوی د یادې ناروغۍ په اړه مالومات له ټلویزیون، راډیو او ټولنیزو رسنیو څخه ترلاسه کوي. که څه هم ټولنیزې رسنۍ ترټولو کم باوره سرچینې ګڼل کېږي ځکه چې ډېرې کنګوسې او اوازې له همدې لارې خپرېږي خو ټلویزیون او راډیو د مالوماتو ترټولو باوري سرچینه ګڼل کېږي.

## ناسم او غلط معلومات او تشې ګنګوسې

> "یوه بله درملنه هم شته؛ یوه هندوانه په منځ نیمه کړئ او ۷ دانې آلوبخارا پکې کیږدئ، بیا یې په یخچال کې تر هغه وخته پریږدئ چې د آلوبخارا اوبه په هندوانه کې جذب شي. بیا ورڅخه جوس جوړ کړئ او په ورځ کې دوځله( سبا او بیګاه) یې وڅښئ." ( له کندز څخه یوه مور)

د کوېډ-۱۹ د درملنې او د کرونا ویروس په اړه د ناسم معلوماتو خپراوی اوس هم د خلکو اصلي اندېښنه ګڼل کیږي. له هلمند ولایت څخه ښځینه او نارینه ګډونوال وايي چې ځینې کسان چې د کوېډ-۱۹ نښې نښانې یې لرلې د یادې ناروغۍ د درملنې لپاره د اپین د کارولو له کبله مړه شوي دي. په فاریاب او ننګرهار ولایتونو کې د کرونا ویروس په وړاندې د مبارزې د لومړۍ کرښې روغتیايي کارکونکو څرګنده کړه چې د بېشمېره غلطو مالوماتو شته والی، له کوېډ-۱۹ ناروغانو په درملنه او د دوی پر نورو کړنو یې منفي سیوری غوړولی دی. د یادو روغتیايي کارکونکو په وینا، خلک اوس روغتیايي مرکزونو ته نه ځي ځکه له یوې خوا فکر کوي چې کرونا ویروس پای ته رسېدلی او له بلې خوا په روغتیايي مرکزونو یې باوره دي. دا حالت د روغتیايي کارکونکو لپاره یوه ننګونه ده.

په نومبر میاشت کې ترټولو زیاتې خپرې شوې ګنګوسې په لاندې ډول دي:

- په کندزاو بلخ ولایتونو کې نارینه او ښځینه ګډونوالو داسې اوریدلي دي چې ډاکټران د کوېډ-۱۹ پېښو په ثبتولو سره ډېرې پیسې ترلاسه کوي.
- په دواړه ولایتونو کې یادو ګډونونوالو دا هم اوریدلي دي چې خلک روغتیايي مسوولینو ته د کوېډ-۱۹ د هرې پیښې د راپور ورکولو په بدل کې پنځوس زره افغانۍ ترلاسه کوي.
- په کندز ولایت کې مېرمنې په دې اند دي چې هندوانه او آلوبخارا کولای شي د کوېډ-۱۹ درملنه وکړي.
- په ټولو ولایتونو کې مېرمنې په دې باور دي چې د درملنې دودیز او کورنۍ لارې چارې لکه د طبیعي بوټو، اچارو، خوټېدلو لیموګانو او شلغم، سره شویو کبانو( چې منځ کې ممیز اچول شوي وي)، خوړول د کوېډ-۱۹ په درملنه کې خورا ګټور دي.
- په بلخ او کندز ولایتونو کې میرمنې د کوېډ-۱۹ څخه د خوندیتوب په موخه له ملایانو څخه تعویذونه اخلي.
- ټول ګډونوال(ښځینه او نارینه) په دې باور دي چې کوېډ-۱۹ په افغانستان کې له منځه تللی.

## د خبرې کرڼلاره

په شپږو ولایتونو لکه هلمند، بلخ، فاریاب، دایکندي، کندز او ننګرهار کې د کلیو د پراختیايي شوراګانو غړو، فعالو خبریالانو او روغتیايي کارکونکو په ګډون له ښځو او نارینو سره ټولټال ۳۲ ژورې او هراړخیزې مرکې او له داخلي بېځایه شویو خلکو، د راډیو اوریدونکو او همدارنګه زده کونکو او میندو او پلرونو سره ۲۳ ډلهایزې(فوکس ګروپ) مرکې تر سره شوې.

د کوېډ-۱۹ پرمهال د خلکو د وضعیت د ښه پوهېدو لپاره، موږ د هغوی د اوسنیوو اندېښنو، د کوېډ-۱۹ په اړه د هغوی د پوهې او مالوماتو کچې او دا چې دوی په دې برخه کې کومو مالوماتو ته اړتیا لري او د دوی د مالوماتو سرچینې کومې دي، وپوښتل. د راډیو له اوریدونکو او د داخلي بېځایه شویو خلکو څخه وغوښتل شول چې خپلې تجربې او د سترګو لیدلی حال له نورو سره شریک کړي او د کلیو د پراختیايي شوراګانو له غړو، د لومړۍ کرښې روغتیايي کارکونکو او خبریالانو څخه وغوښتل شول چې خپلې شخصي او د سیمې د خلکو د تجربو په اړه مالومات ورکړي. د یادو مرکو سربېره، د خبرې موندنې او معلومات د کرونا ویروس په هکله د بي‌بي‌سي میډیا اکشن د نورو څېړنو له موندنو سره چې د کوېډ-۱۹ ناروغۍ په برخه کې روانې دي، پرتله او ارزول شوي دي.

د ځېرني له پیلېدو مخکې، د کرونا ویروس سره د مبارزې کاري ډلې(RCCE) سره مو سلا مشوره وکړه ترڅو وکولای شو د ځېړنې د پوښتنلیک د چمتوکولو په لړۍ کې د دوی معلوماتي اړتیاوې په پام کې ونیسو.

## • د خلکو غږ

دا څېړنیزه میاشتنۍ د افغانستان له ګوټ ګوټ څخه  د هغو خلکو د نظرونو پر بنسټ چمتو شوې ده  چې د کووید-۱۹ له کبله اغیزمن شوي دي. د دې څېړنیزې میاشتنۍ اصلي موخه د کووید-۱۹ په اړه د خلکو د انګیرنو او اندېښنو ته انعکاس ورکول دي، ترڅو روغتیایي او بشرپالو موسسو سره مرسته وشي چې خپل پلانونه او فعالیتونه په سمه توګه د خلکو له بنسټیزو اړتیاوو سره سم، پلي کړي. دا څېړنیزه میاشتنۍ د بي‌بي‌سي میډیا اکشن لخوا د روغتیا نړیوال سازمان او د کاناډا د نړیوالو چارو سازمان(Global Affairs Canada) په مالي مرستې چمتو شوې ده، محتواې بي‌بي‌سي میډیا اکشن پورې اړه لري، او پکې وړاندې شوي نظرونه بي‌بي‌سي او یا هغو تمویلونکو ادارو پورې اړه نه لري چې له خیریه چارو څخه ملاتړ کوي.

مونږ د نورو ادارو او سازمانونو د لا ډېرې همکارۍ هرکلی کوو چې غواړي د خپلو اړوندو کاري سیمو څخه د خلکو نظرونه له مونږ سره شریک کړي او یا د څېړنیزو خبرپاڼو په شنې او تولید کې برخه واخلي. که چېرې غواړئ له مونږ سره په دې برخه کې ونده واخلئ، مهرباني وکړئ د لاندې برېښنالیک پر مټ له مونږ سره اړیکه ونیسئ:

rashed.hayati@af.bbcmediaaction.org